له يو انسان څخه بل ته په طبيعي توګه د ناروغۍ انتقالېدل، ښي لور او کيڼ لور ته د مرغۍ په الوتلو بدفال نيول، د صفر په مياشت بدفالي نشته، او له مجذوم څخه داسې وتښتئ لکه چې له زمري څخه تښتئ

له ابو هريره -رضي الله عنه- څخه روايت دی وايې چې رسول الله -صلى الله عليه وسلم- فرمايلي دي: «له يو انسان څخه بل ته په طبيعي توګه د ناروغۍ انتقالېدل، ښي لور او کيڼ لور ته د مرغۍ په الوتلو بدفال نيول، د صفر په مياشت بدفالي نشته، او له مجذوم څخه داسې وتښتئ لکه چې له زمري څخه تښتئ.».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د جاهليت د زمانې ځينې کارونه بيان کړل او په اړه يې خبرداری ورکړ، او دا يې واضحه کړه چې چارې د الله په لاس کې دي او دا چې هر کار د الله په امر او تقدير سره کيږي، او هغه په لاندې ډول دي: لومړی: د اسلام نه مخکې خلک په دې باور وو چې ناروغي پخپله ساري ده؛ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم لدې عقېدې څخه منع وفرمايله چې ناروغي له يو ناروغ څخه بل ته په خپله ځي؛ نو الله تعالى په کائناتو کې تصرف کوي او همغه ذات دی چې ناروغي راليږي او يا يې لرې کوي، او دا کارونه يوازې د هغه په اراده او تقدير سره کيږي. دويم: د جاهليت خلک به چې کله په سفر او يا سوداګرۍ وتل نو يوه مرغۍ به يې خوشې کړه، که ښي اړخ ته به والوته نو يو بل ته به يې سره زيری ورکړ او که چېرته به کيڼ لور ته والوته نو بد فال به يې ونيوه، رسول الله صلى الله عليه وسلم په مرغۍ له بدفالۍ څخه منع وفرمايله او څرګنده يې کړه چې دا يوه باطله عقيده ده. دريم: د جاهليت د وخت خلکو به ويل: کله چې بوم مرغۍ (ګونګی) په يو کور کيني، نو د هغه کور پر خلکو يو آفت راځي؛ نو رسول الله صلى الله عليه وسلم پدې کار له بد فالۍ څخه منع وفرمايله. څلورم: د صفر مياشتې په اړه چې د قمري مياشتو دويمه مياشت ده بدفال نيول حرام دي. او ويل شوي چې صفر: يو ډول مار دی چې د مېږو او خلکو په ګېډو کې پېدا کيږي، دوی ادعا کوله چې دا له جرب مرض (هغه ناروغي چې د انسان د بدن غړي خوري) څخه زيات ساري دی، نو لدې عقېدې څخه يې منع وفرمايله. پنځم: د جذام له مرض څخه د ځان ساتلو په موخه په جذام له اخته شوي انسان څخه په لرې پاتې کېدلو يې امر وکړ لکه څنګه چې انسان له زمري څخه لرې کيږي، دا د ځان ساتلو او د هغو اسبابو د کارولو له امله چې الله تعالى پرې امر کړی، او جذام داسې يوه ناروغي ده چې له امله يې د انسان د بدن هډوکي له منځه ځي او خوړل کيږي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3407